# امریکایي لویه جرګه
# یوبل تاریخي پېغور!

لویې جرګې څخه یوځل بیا په رذیلانه توګه ناوړه ګټه واخیستل شوه او یوشمېر پېژندل شوي څېرې چې جنایتکارۍ، مزدورۍ، لوټمارۍ او خلکو سره دښمنۍ یې په کراتو ثابته شوې وه د کرزي ګوډاګي دولت یوشمېر هوکړې کوونکو استازو سره یوځای شول او همغه شان چې وړاندوینه کېدله د امریکا په تېرې کوونکې دولت باندې د افغانستان پلورلوته یې هوکړه وکړه. کرزي او شاوخوا کسانو یې د خپلو امریکایي څښتناو په لمسون د موږ د بې وزله او دربه در ملت له خزانې څخه لس ملیونه ډالره د یوه غولوونکې حرکت په ترځ کې پو پناه کړل څو په نړیوالو ټولنو کې داسې تبلیغ وکړي چې ګواکې دغه تاریخي خیانت د«افغانستان دملت په لاربښوونه» ترسره شوی دی.پخوا تر دې خلقي او پرچمي هېواد پلورو د دغه راز فرمایشي جرګو په جوړولو سره وغوښتل چې «شمالي ستر ګاونډي» ته خپله چوپړتیا د ملت د سلا مشورې په نوم توجیه کړي چې ځآی یې ونه نیو او خپلو اربابانو سره یوځآی د تاریخ کندې ته ولاړل. نن یوځل بیا د کرزي مزدور دولت د روس د چوپړانو ناکامه او شرموونکې تجربې له سره آزمایي خو اوس زموږ ولس دومره پوهېدلی چې ددغه راز خیانته ډکولوبو باندې ونه غولېږي.

په افغانستان کې د امریکایي اډو تل پاتې شتون او مریې توب قرار داد نوې خبره نده، امریکا او هملاسوېې د لسو کالو راهیسې خپل ستر جنګي ماشین او شکمنې اډې د هېواد په بېلو بېلو سیمو کې ځای پرځای کړي ترڅو د نوؤ پاڅېدلو آسیایي ځواکونو په وړاندې د نړیوال زبرځواک په توګه خپل یوځی موقعیت وساتي. امریکا ته د چوپړتیا قرار داد په ۲۰۰۳ کال کې ډاکتر عبدالله د ملت له سترګو لرې سرته رسولی ؤ خو اوس د امریکا مزدورانو وغوښتل چې په دغه هېواد پلورونکې حرکت باندې د قانوني بڼې ورکولو په موخه د«ملت د غوښتنې» ټاپه هم ولګوي.

دامریکا چوپړ هېواد پلوري او غاړه اېښودونکي یا تسلیم طلبان داسې ښیي چې ګڼې زموږ د هېواد نیکمرغي او ځلانده راتلونکې امریکا سره ستراتژیکي تړون پورې تړلې ده. خو اوس خلک په دې پوهېدلي چې د امریکا دولت د تېرو دېرشو کالو راهیسې زموږ د هېواد او ولس د بربادۍ او بدمرغۍ لاملونو څنې ؤ، دې جګړه مار دولت ټول جهادي او طالبي سرې وژونکي باندونه جوړ او وسله وال کړي او پړی یې د آی.اس.آی. په لاس کې ورکړی دی. دا امریکا وه چې د خپلو اقتصادي او برلاسي غوښتونکو استراتژیکو موخو لپاره یې زموږ خلک د توپ خولې ته وتړل او ترټولو تورفکره، دموکراتیک ضد، خروړې او خلکو ضد ډلې ټپلې یې زموږ پر ولس وتپلې. امریکا په تېرو لسو کلو کې هم په خپل ټول توان سره بنسټپال سرې وژونکي وروزل او ان سرټمبه او ناپوهو طالبانو او د دوی پاکستاني او ایراني څښتنانو سره یې هم د پردې ترشا جوړجاړی وساتله.

خندنی لویې جرګې په افغانستان کې د امریکایي تلپاتې اډو په تایید ولو سره په اصل کې د خپلواکۍ، ملي حاکمیت او په خپلې خاورې او هېواد باندې د ولس واکمنۍ سره مخه ښه وکړه او افغانستان یې یومخ داسې تیری کوونکي هېواد ته وروسپاره چې د بې شمېره ملتونو وینې یې په بیرغ باندې انځورشوې دي. د دې شرموونکې تړون لاسلیک د«ګندمک» معاهدې سره توپیر نلري او دهغو کسانو نوم به زموږ د تاریخ په پاڼو کې د ملي خاینانو په توګه ولیکل شي چې دغه معاهده لاس لیک کوي.

زموږ د خلکو تېر ایستلو په موخه د جرګې پای ته رسېدونکې اعلامیې کې د امریکا له دولت څخه د په زړه پورې غوښتنو اوږد لست لیکل شوی دی چې که ټول یې هم په استراتژیک تړون کې شامل شي بیا به هم امریکا د یوه زورګو او خپل سرې هېواد په توګه لکه څرنګه چې د هېڅ نړیوال قرار داد عملي کولو ته غاړه نه ږدي، هېڅکله به یوه بې وزله او کوچنې هېواد ته ورکړل شوؤ وعدو ته هم ژمن پاتې نه شي .هغه شرطونه چې امریکایې د دې قرار داد تر امضأ کولو وروسته زموږ پر خلکو تپي دومره شرموونکي او غلامي ډوله دي چې مزدورانو یې د خپلې جرګې استازو ته د په ډاګه کولو جرأت هم و نه کړ. دغه ښاغلي او آغلې هېروي چې کله یو دولت خپل ملت ته نېکمرغي، هوساینه او آزادي ور په برخه نکړي څه ډول به زموږ خلکو ته ډېر کوچنی مثبت کار هم تر سره کړي. دوی نه پوهېږي چې د امریکا دولت همدا اوس د ملیونونو هغو امریکایانو پاڅون سره مخ دی چې تر دوو سپوږمو رسېدلي دي، دغوامریکایانو خپل پاڅون ته د«وال ستریت نیونه» نوم ورکړی چې په خپل ناوړه ژوند نیوکو لپاره د«موږ ۹۹ سلنه یو» شعار سره یې د هغه هېواد ظالم دولت په زنګنو کړی دی. دغه امید بخښونکي غورځنګونه به د سپینې ماڼۍ او پنټاګون بنسټ په ورځ په ورځ ځپانده کېدلو او پراخېدلو سره تر پخوا زیات و لړزوي.

امریکا ډېر خطر ناک بحران سره لاس او ګریوان دی چې نور نشي کولای له اقتصادي پلوه نړۍ تر خپل اغېز لاندې راولي، ځکه هڅه کوي د بې ساری یوځی ځواک په مرسته هغه نوي پاڅېدلي ځواکونه چې نور نه غواړي د دغه ګواښ کوونکي دولت تر ولکې لاندې وي، تر

ګواښ لاندې راولی. افغانستان کې د پراخه پوځی اډو جوړول په ټولې نړۍ باندې د پوځی برلاسی د حلقې بشپړولو لپاره د امریکا د ستراتیژیکو پروګرامونو یوه برخه ده. په همدې حال کې امریکا له روان اقتصادی بحران څخه د وتلو او د نړۍ د بې وزلو هېوادونو د طبیعی زېرمو په لازیاتو لوټلو کې پېژنی. هماغه شان چې عراق او لیبیا یې د دوی په تیلو باندې د لاس رسی د پاره په خاورو او وینو ولړل د افغانستان پریمانه طبیعی زېرمې به هم چې د خپل ګوډاګی دولت له لارې پرته د هېڅ ډول خنډ څخه لاس رسی ورته لری لوټ کړی. همدغه شان امریکا زموږ هېواد د نړۍ د مخدره موادو د مافیا په مرکز بدل کړې او د پټې سوداګری څخه یې هرکال په سلګونو ملیارده ډالر ګټه ترلاسه کوی چې هېڅکله به هم د دغه پریمانه عاید څخه په خپلې خوښې لاس وانخلی. که امریکا یې پوځیانو د ویتنام د جګړې په لړکې مخدره توکی د وژل شوؤ په تابوتونو کې ځای پرځای کول او په پټه یې امریکاته لیږدول، دغه کار په افغانستان کې د هېڅ ډول خنډ پرته په B ۵۲ ډوله الوتکو کې سرته رسوی.

دا جنایتکاران، خاینان، لوټماران اوظالمان دی چې په خپل سر باندې د پالونکي یا ارباب دایمی شتون ته اړتیا لری ځکه چې خلک ورځنې کرکه لری او د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره ددوی ځواک او باد راوړلي او حرامه پانګه د خطر سره مخ کیږی. امریکا په تېرو لسو کالو کې دوی د خپلو سوړو څخه را وایستل او د هېواد وزیر، رییس، سفیر، مارشال او ډېرو سترو پانګوالو په بڼه یې واړول له دې امله دغه تېروګان حق لری چې امریکا خپل خدای وګڼی او شتون ته یې د قانونی بڼې ورکولو لپاره د سپی په شان منډې وکړی دوی امریکا ماتې نه خوړونکی ځواک ګڼی خو د ویټنام د آزادی غوښتونکو او اوس د عراق د خلکو په وړاندې د امریکا د شرمه ډکې ماتې خوړلو تاریخ هېروی. خو امریکایی نیواکګر به زموږ ولس ته پرته د بدمرغی، خواری، په مخدره توکو روږدی کېدلو، ملی نفاق، بندی توب او مریی توب څخه بله ډالۍ ونلری.

لویه جرګه وال په یوه غږ ددې شرموونکی قرار داد هوکړه د منلو وړ ګڼی چې په هېواد کې د پاکستان او ایران دلاس وهنو مخه ونیول شی. خو دوی خپل ځان په ناپوهی وهی او په دې حقیقت سترګې پټوی چې د ایران او پاکستان د بې شرمانه لاس وهنو اغېزمنتوب په دولتی لوړو څوکیو کې د چوپړانو او جاسوسانو شتون دی. دا امریکا وه چې تېرولسو کالو کې یې د پاکستان او ایران له وینو ډک لاسونه زموږ هېواد کې پرانیستی پرېښودل او د آی.اس.آی. او واواک تر ټولو رسوا چوپړانو ته یې د خپلې له فساده ډکې مافیایی ادارې ټولې چارې ور وسپارلې.

د په اصطلاح لویې جرګې ډېری استازو په خپلو ویناوو کې په بېشرمی سره له امریکا غوښتنه کوله چې د هېواد پولې د بهرنیو لاس وهنو څخه وساتی. دا ډېره سپکاوی او بې غیرتی ده چې د خپل مورنی هېواد ساتنه یوه تېری کوونکی دولت ته وروسپارل شی. دوی زموږ د ملت ځلانده تاریخ ته چې د پردیو په وړاندې جګړې او د خپلواکی غوښتنې روحیه یې لرلې ده کیچړې ورشیندی او زموږ د «امپراتورانو هدیره» لقب ګټونکی هېواد اوښتې ښېره ننداری ته وړاندې کوی. هغه ملت چې د پردیو تېریو څخه د خپل هېواد ساتنه نشی کولای د کرکې او ورکې وړدی. خو زموږ بې وزلو لاکن آزادی غوښتونکو خلکو څو څو واره ثابته کړې ده چې کولای شی په تش لاس د نیواک ګرانو په وړاندې د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې څخه سانه وکړی خو په دې شرط چې د کورنیو هېواد پلورو او خاینانو له منګلو وژغورل شی .

هغه هېواد چې په خپلې خاورې کې د امریکا پوځی اډې ولری هیڅکله هم د خپلواکی غوښتنې دعوا نشی کولای . هغه کسان چې د بېلګې په توګه د جاپان یادونه کوی، د امریکا د پوځی اډو پر ضد د جاپانی ولس له کرکې او نه ستومانه کېدونکو مبارزو څخه ناخبره دی. د جاپان خلک له دې امله سرټکوی چې د دوی په هېواد کې میشت امریکایی ځواکونه د هېڅ ډول قانون او اصولو پروا نه ساتی او د دوی خپلواکی یې نیمګړې کړې ده او پراخې نیوکې یې پیل کړی دی چې د جاپان دولت او امریکا اوکیناوا څخه د پوځی اډو لرې کولو ته اړباسی.تاریخ ثابته کړې ده چې هېڅ ملت نشی کولای د بهرنی ځواک په مرسته آزادی، نیاو او نیکمرغی ترلاسه کړی. دا د یوهېواد خلک دی چې کولای شی په خپلو هلوځلو او وینو تویولو د زور زیاتی ځنځیرونه مات او سوکاله ژوند ته ورسېږی. د امریکا چوپړان او په اصطلاح پلورل شوی شنونکی چې په ولسی ځواک باور نلری، نشی کولای د تاریخ په دې حکم وپوهېږی.

د **افغانستان د همبستګی ګوند** زموږ د ځورېدلی لاکن خپلواکی غوښتونکی او په هېواد مین ملت سره یوغږ د امریکا د تلپاتې اډو په اړه هرډول قرار داد ملی خیانت بولی او په خپل ټول توان سره به د دغه شرموونکی حرکت په وړاندې و درېږی او هغه کسان به د بې غیرتو او هېواد پلورو عناصرو په توګه رسوا کړی چې دغه له شرمه ډک حرکت ته د هو ځواب ورکوی.

**د کورنیو خاینانو او بهرنیو تېری کوونکو څخه زموږ د ملت آزادی یواځې د دوی په خپلو لاسونو ترلاسه کېدلای شی!**
**مړه دې وی جهادی او طالبی سږی وتژونکی او د دوی بهرنی خاوندان!**
**ځپانده دې وی د هېواد خپلواکی غوښتونکی او بنسټپالی ضد غورځنګ!**

# د افغانستان د همبستګی ګوند

۱۳۹۰ د لړم ۲۹ – ۲۰۱۱ د نوامبر ۲۰

info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | ۰۰۹۳(۰)۷۰۰۲۳۱۵۹۰